# له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه وېره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي ((پراخي به درباندې راشي.

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى المِنْبَرِ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ، فَقَالَ: «إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي، مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا» فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَوَيَأْتِي الخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقِيلَ لَهُ: مَا شَأْنُكَ؟ تُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلاَ يُكَلِّمُكَ؟ فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ؟ قَالَ: فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ، فَقَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟» وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ، فَقَالَ: «إِنَّهُ لاَ يَأْتِي الخَيْرُ بِالشَّرِّ، وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ، إِلَّا آكِلَةَ الخَضْرَاءِ، أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ، فَثَلَطَتْ وَبَالَتْ، وَرَتَعَتْ، وَإِنَّ هَذَا المَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَنِعْمَ صَاحِبُ المُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ المِسْكِينَ وَاليَتِيمَ وَابْنَ السَّبِيلِ - أَوْ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ، كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ، وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ القِيَامَةِ». یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منبر ناست و او مونږ یې شاوخوا ناست وو، نو ویې فرمایل: «له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه وېره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي (پراخي به درباندې راشي). بیا یو سړي وویل: اې د الله رسوله! آیا کېدی شي چې خیر شر وزیږوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم غلی شو، نو (دې سړي ته وویل شو چې: څه خبره ده چې؟ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبرې کوې او هغه له تا سره خبرې نه کوي؟ نو مونږ ولیدل چې پر هغه وحی نازلېده؟ وایې: بیا یې له خپل (تندي) څخه خولې وچې کړې او ویې ویل: پوښتونکی چېرته دی؟ داسې و لکه چې ویې ستایي، ویې ویل :«په حقیقت کې، خیر شر نه زیږوي، او هغه څه چې په پسرلي کې وده کوي، یا خو وژل کوي او یا مرګ ته نږدې کول، پرته له شنه خوړونکي حیوان، کوم چې تر هغه پورې خوړل کوي تر څو یې چې تشې وپړسېږي، بیا نو د لمر سترګې ته مخ شي سوټې او متیازې وکړي او بیا وخرېږي، او یقینا چې دا مال شین او خوږ دی، نو غوره مسلمان هغه دی چې یو څه ترې مسکین، یتیم او مسافر ته ورکړي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، او یقینا چې څوک یې په ناحقه واخلي، نو د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړیږي، او د قیامت په ورځ به پرې ګواه وي».

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر ناست و او خپلو اصحابو ته یې وفرمایل: هغه څه چې زه له ما وروسته پر تاسو ډېر ویریږم هغه دا ده چې پر تاسو به د ځمکې له نعمتونو، د دنیا د ښکلاګانو، د هغې د زینت او خوښ او د مالونو، جامو، فصلونو او نورو شیانو پراخي راشي چې خلک به یې په ښکلا وياړي، سره له دې چې ژر له منځه تلونکي دي. یو سړي وویل: دنیا خو د الله تعالی نعمت دی، نو آیا دا نعمت به بېرته راګرځي او زحمت او سزا به ترې جوړیږي؟!. خلکو پوښتونکی ملامت کړ، ځکه هغوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولیده چې چپ شو، او هغوی ګمان وکړ چې په غصه یې کړ. خو (وروسته) څرګنده شوه چې پر هغه صلی الله علیه وسلم وحي نازله شوه، بیا یې له خپل تندي خوله پاکه کړه او ویې فرمایل: سوال کوونکی چېرته دی؟ هغه وویل: زه. یعنې دا یم. نو د الله تعالی حمد او ثنا یې وویله، بیا هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ریښتونی خبر یوازې خبر راپېښوي، خو (د دنیا) دا ښکلا یوازې خبر نه دی، ځکه چې فتنه رامنځته کوي، او په اړه یې سیالي او بوختیا د دې لامل ګرځي چې انسان اخرت ته پوره پاملرنه ونه کړي، بیا یې د دې لپاره مثال بیان کړ او ویې فرمایل: د پسرلي بوټي او شین والی؛ یو ډول فصل دی چې مالونو ته خوند ورکوي او نږدې ده چې د ډېر خوراک له امله ووژل شي او یا وژلو ته ورنږدې شي، خو هغه

حيوانات چې د تشو تر ډکولو پورې وڅرېږي، بيا لمر ته مخ کړي پچې او يا متيازې وکړي، بيا له خپلې ګېډې خولې ته واښه راپورته کړي ويې ژوي او تېر يې کړي او بيا خوراک ته وروګرځي. نو دا مال د شنو خوړو بوټو په څېر دی چې د ډېروالي له امله (حيوان) وژني او يا يې وژلو ته ورنږدې کوي؛ مګر دا چې د حلالې لارې د اړتيا وړ په خوراک بسنه کوي تر دې چې خودکفا شي نو ضرر نه لري، او غوره مالدار مسلمان هغه دی چې مسکينانو، يتيمانو او مسافرو ته يې ترې ورکړي او څوک چې دا مال په حقه ترلاسه کوي هغه ته برکتي کيږي، او څوک يې چې ناحقه واخلي، نو مثال يې د هغه چا په څېر دی چې خوراک کوي او نه مړېږي، او د قيامت په ورځ به پرې شاهد وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4180